Australian Human Rights Commission
everyone, everywhere, everyday

# شکایت کړل

د استرالیا د بشری حقوقو کمیسیون یوه خپلواکه اداره ده چې د غیر قانونی جنسي، نژاد، معلولیت او د عمر تعصب، ILO III تبعیض او د بشري حقوقو سرغړونو په اړه شکایتونه څیړي او حل کوي.

## د څه شي په هکله تاسي مونږ ته شکایت کولي شي

- **جنسي تبعیض** په ګدون دي جنسي ځوروني او تبعیض د جنسیت، د جنسیت هویت، بین الجنسیت حالت، امیندوارئ، د واده یا اړیکي حالت، د شیدو ورکول، د کورنۍ مسئولیتونه او د جنسي تمایل څخه عبارت دی.
- ***د معلولیت تبعیض*** په ګدون د تبعیض پر اساس دي فزیکی، هوښیاري، حسی، زده کړی او رواني ناروغي، ناروغي یا مریضي، صحی وضعیت، د کار اړوند ټپونه، اوسنی او راتلونکي معلولیتونه، د معلولیت مرستندوي، د ځارویو سره مرسته او د معلولو شخص سره تړاو.
- ***د نژاد تبعیض*** په ګدون دي توکمیز نفرت او تبعیض پر اساس دي نژاد، رنګ، اصلیت، ملي یا قومي منشا او د کډوالۍ وضعیت
- ***د عمر تعصب*** په ګدون د ډیر ځوان عمر یا ډیر عمر لرونکی پر اساس تبعیض
- ***ILO III تبعیض*** په ګدون دی تبعیض په دنده کي پر اساس د مذهب، جرمی ریکارډ، د سوداګري اتحادیي فعالیت، سیاسي مفکوره او ټولنیز اصل.
- ***بشري حقوق*** په ګدون دي د کامنویلت او یا دهغه په استازیتوب کړني چي د بشري حقوقو ځانګړو وسیلو څخه سرغړونه، لکه د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون، د ماشوم د حقوقو کنوانسیون او د معلولو افرادو د حقوقو کنوانسیون.

تاسو کولی شي شکایت وکړی که د استرالیا په هره ګوښه کی اوسي او شکایت کول هیڅ لګښت نلري. د شکایت کولو لړي په لاندي دول توضیح شوي.

## پلټنه وکړی

- که تاسو ډاډه نه یاست چي د کوم شي په اړه شکایت کولي شي، تاسو کولي شي د کمیسیون ملي مالوماتو خدمتونو ته د **1300 656 419** په شمیره زنګ ووهي او یا په infoservice@humanrights.gov.au ایمیل واستوي.
- موږ کولي شو د شکایت کولو د پروسي لپاره فورمه درواستو.
- که موږ مرسته ونشو کړي، موږ به هڅه وکړو چی داسی کس ته مو راجع کړو چي مرسته وکړي شي.

## شکایت وکړی

- شکایت باید لیکل شوي وی. تاسي کولي شي د شکایت فورمه ډکه او بیرته یي موږ ته پوست یا فکس کړي یا تاسو کولي شي خپل شکایت انلاین زموږ په ویبپاڼه www.humanrights.gov.au کي ثبت کړي.

- تاسي کولي شي په خپله غوره ژبه کي شکايت وکړي، مونږ ستاسی سره مرسته کولي شو د شکايت په ليکلو کي که دا اړينه وي.
- تاسو د شکايت کولو لپاره وکيل ته اړتيا نلرئ.
- که موږ ستاسو د شکايت سره معامله ونشو کړي، موږ به تاسو وضاحت درکړو چي ولي.

## تفتيش / پلټني

- موږ به ستاسو د شکايت په اړه ستاسو سره اړيکه ونيسو او کيدای شی ستاسو څخه وغواړو چی نور مالومات چمتو کړي.
- په عمومي توګه، کميسيون به د هغه شخص يا سازمان سره اړيکه ونيسي چي تاسو د دوي څخه شکايت کوي او دوی ته به ستاسو د شکايت يوه کاپي ورکړل شي. موږ ممکن له دوی څخه وغواړو چي ځانګړي مالومات چمتو او يا ستاسو شکايت ته ځواب ووايي. کميسيون ته ستاسو د شکايت په ځواب کي دا چمتو کړل شوي مالومات ممکن په ګدون د شخصي مالوماتو حساس مالومات ستاسو په هکله وي.
- په ځينو مواردو کي، موږ ممکن پريکړه وکړو چي ستاسو شکايت ته دوام ورنکړو. که دا پيښ شي، موږ به تاسي ته وضاحت درکړو.
- موږ ممکن ستاسو سره د روغي جوړي له لارې د شکايت د حل لپاره خبري وکړو.

## پخلاينه

- پخلاينه پدې مانا چي موږ هڅه کوو چی ستاسي او له هغه کس يا سازمان چي تاسي له هغوي شکايت لري، د مسئله د حل لپاره يوه لاره ومومو.
- پخلاينه په مخامخ ناسته کي چي ورته د "پخلاينې کنفرانس" وايي او يا د تيلفون د کنفرانس له لارې تر سره کيدي شي. په ځينو قضيو کي، شکايتونه د ايميل د تبادلې او د جوړښت مشاور سره د خبرو اترو له لارې حل کيدي شي.
- شکايتونه په ډيرو بيلابيلو لارو حل کيدي شي. د مثال په توګه، د بښنې په واسطه، د پاليسي په تغيير او يا د خساره بدله وي.

## د محکمي احتمالي اقدام – جنسي، معلوليت، نژاد او د عمر تعصب

- کميسيون د پريکړې کولو واک نلري چي غير قانوني تبعيض پيښ شوي دي که نه.
- که ستاسو شکايت حل نه شي او يا د کوم بل دليل په اساس بند شوي وي، نو تاسو به وکولي شئ قضيه محکمي ته وړاندې کړئ. محکمه دا پريکړه کولي شي که غير قانونی تبعيض پيښ شوي وي.
- تاسي 60 ورځې وخت لرئ کله چي کميسيون شکايت ودروی او تاسي د استراليا فدرالي محکمي سرکت يا د استراليا فدرالي محکمي ته غوښتنليک وړاندې کړي.
- کميسيون نشي کولی دا مسله ستاسو لپاره محکمی ته وليږدوي يا ستاسو د قضيه سره په محکمه کي په استازيتوب کي مرسته وکړي.
- تاسي ممکن د وکيل يا قانوني خدمت سره خبرې کولو ته اړتيا ولرئ که تاسو غواړئ محکمي ته لاړ شئ.

## پريکړه/راپور – ILO III تبعيض او بشري حقوق

- که چیري شکایت د کوم بل دلیل په وجه حل یا بند نشي، د کمیسیون رییس کولي شي پریکړه وکړي چي ایا د ILO III تبعیض او د بشري حقوقو نقض پیښ شوي دي.
- که رییس مطمین شي چي تبعیض یا د بشري حقوقو نقض پیښ شوی دي، ممکن رییس دا مسئله فدرالي لوي څارنوالي ته راپور ورکړي. پدي راپور کي، رییس کولی شي د هر هغه زیان لپاره د خساره وړاندیز وکړي کوم چي یو کس دا تجربه کړي وي. دا راپور ممکن پارلمان ته وړاندي شي.
- د رییس د پریکړو مثالونه د تبعیض او بشري حقوقو په اړه د کمیسیون په ویبپانه کی شتون لري http://www.humanrights.gov.au/publications/reports-minister-under-ahrc-act.

## زه نور مالومات چیرته تر لاسه کولي شم؟

د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون د اړیکو جزئیات په لاندې دول دي:

**تیلفون**
ملی مالوماتی خدمت: 1300 656 419
TTY: 1800 620 241
NRS 133 677
فکس: 9611 9284 (02)

که تاسي ترجمان ته اړتیا لرئ تاسي کولي شئ په 450 131 زنګ ووهي او د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون سره د وصل کیدو غوښتنه وکړئ.

که تاسي کوڼ یا د اوریدلو ستونزه لرئ تاسی کولی شی زموږ سره د TTY په واسطه په 241 620 1800 شمیره اړیکه ونیسي. که تاسي کوڼ او د اوریدلو او خبرو کولو ستونزه لري تاسی کولي شي له موږ سره د ملي ریلي خدماتو ((National Relay Service (NRS) له لاری په 677 133 اړیکه ونیسي. که تاسی د Auslan ترجمان ته اړتیا لری موږ یی تاسی ته تنظیمولي شو.

که تاسي ړوند یاست یا د لیدلو ضعف لري نو موږ کولي شو په غوښتني سره په بدیل شکلونو مالومات درته چمتو کړو.

**پوسټ**

GPO Box 5218
Sydney NSW 2001

**انلاین**

ایمیل: infoservice@humanrights.gov.au

ویبپاڼه: www.humanrights.gov.au

تاسي کولي شي په انلاین خپل شکایت دلته وکړی

http://www.humanrights.gov.au/complaints/lodging-your-complaint.

**عمومی حقوقي مشوره**

که تاسو د شکایت کولو په اړه فکر کوئ، تاسو ممکن قانوني مشوره تر لاسه کړئ. دلته د ټولني قانوني خدمات شتون لري چي د تبعیض او ځوروني په اړه وړیا مشورې چمتو کولی شي.

تاسي کولي شي د حقوقي مرستو له ادارې (https://www.nationallegalaid.org/for-individuals/) او يا د خپل نږدې حقوقي مرکز (www.naclc.org.au/directory) اړيکه ونيسي.

**د عدم مسئووليت يادونه: پدي حقايق پاڼه کې مالومات يوازې د لارښودني لپاره په نظر کي نيول شوی دي. دا د قانوني مشورې بديل ندی.**